## د مهاجرت ادب تاثرات

## او په پښتو ژبه کې د شوي کار جاج

**لیکوال: یونس تنویر**

د یوې ژبې د ادبیاتو د غنامندۍ په سلسله کې تر ټولو بارزه خوا د ادیبانو د مهاجرت لړۍ ده. تاریخونو لیکلي دي، چې د پخوانو انسانانو د هجرت عوامل: قبیلوي پولې، مذهبي تعصبات، نظریاتي لیدلورۍ او په اوسني دور کې د پردیو لپاره جاسوسۍ او همداسې نورو عواملو له امله ادیبان مهاجر شوي او نورو سیمو او هیوادونو ته خواره شوي دي. بالخصوص مسلمانانو  تر ټولو زیات هجرتونه کړي دي؛ ځکه چې اسلام په یوې داسې ځمکه قایمیده، چې ځمکې پوره له فساده او خشونتونو ډکې وې. د زیاترو مسلمانونو په وینو دا ځمکې پاکې او سوتره شوې دي.

تاریخونو او تفاسیرو په دغو مهاجرتونو کې د ادیبانو  د هجرت لړۍ مسلسلې را اخیستې دي. دا چې په هجرتونو کې د لیکل شویو ادبیاتو لمن ډېره پراخه ده او زموږ دغه مقالې یې نه شي ځایولای؛ نو اړینه ګڼم، چې په پښتو ادب کې د مهاجرو ادیبانو په پنځونو یوه تته رڼا واچوم. یانې موږ په دې برخه کې هغه ټولې خبرې نه شو کولای، ځکه چې دا ډول مسایل د یوې مقالې په غیږ کې نه ځایږي. شاید موږ په دغه مقاله کې و دې خبرې ته هم ځواب پیدا نه کړو، چې دا ادبیات څنګه پیل شول؟ ولې پیل شول؟ د نورو ژبو تاثرات څه و؟ څه یې را انتقال کړل او څه یې په هغوی پیرزو کړل؟ او څنګه یې د نورو ژبو له هنریاتو ګټه اخیستې ده؟؟

زه فکر کوم، چې دا پوره یو لوی تحقیق ته اړتیا لري؛ خو ضروري خبره دا ده، چې په دې مرحلو کې موږ د دوه ډوله ادبیاتو سره مخ کیږو. یو ډول د جلاوطنه ادیبانو پنځونې دي او بل ډول په زندان کې پنځول شوي ادبیات دي. خوشحال خټک، اشرف خان هجري په زندان کې د خپلو مېنو ساندې او وطني احساسات ولیکل او ادب ته یې خپله برخه ډالۍ کړه. او د هجرت کولو ازادي هم ترې اخیستل شوې وه.

زه نه غواړم، چې په دغو ټولو کشالو خبرې وکړم؛ مګر دا خبره ډېره یقیني ده، چې افغانانو د دوو نظریو لپاره هجرتونه کړي دي. یو د اسلامي نظام او نظریې د ترویج لپاره هجرتونه او بل د کفري نظریو لپاره افغانان کډوال شوي دي.

مګر په دغو دواړو حالاتو کې چې کوم ډول ادبیات زیږیدلي دي، هغه د پښتو ژبې لپاره یوه لویه غنامندي ده. زموږ زیاتره لیکوال او شاعران د بېلابېلو تعصباتو په وجه یا شړل شوي او یا تللي دي. تاریخونو لیکلي چې

کاظم خان شیدا د خپلو عزیزانو له جبره هند ته مهاجر شوی دی؛ مګر هغه د پښتو ادب لپاره یو ډېر لوی خدمت وکړ او په دې ژبه کې یې د هندي سبک او مخییله شاعرۍ باب بشپړ کړ.

استاد پسرلی چې کله ایران ته لاړ، پښتو ادب ته یې له هغه ځایه یو ډېر هنري فکري اړخ را ددننه کړ. په استاد دا تاثیر؛ دده! له دې قوله هم جوت دی، چې ماته حافظ لوی شاعر نه ښکاره کیده، مګر کله مې چې دده په اړه شرحې ولوستې، نو ډېر لوی شاعر و.یانې کله چې استاد د ایراني ادب په نزاکتونو وپوهېده، د هغو څخه یې زیاتې هنري تجربې داخلي وګرځولې.

همدا ډول زموږ لیکوال، چې له دې هېواده یې و نورو هېوادونو ته هجرتونه کړي دي، ډېرې لویې نظریې یې و نورو هېوادونو ته وړي دي. پان اسلامیزم د علامه سید جماالدین افغان نظریه وه، چې ډېرو هیوادونو کې یې لیکوال او شاعران پلیوني شول او پوره یې ددې نظریې لپاره خپل قلمونه وقف کړي دي. یانې هغوی ته چې د اندولس او قرطبې غمیزه شریکه وه، نو په شریکه یې دا نظریه بدرګه کړې ده. دا د اسلام هغه نظریه ده، چې په دې سره په نړي کې ټول مسلمانان ورونه دي. په اردو او فارسي ادب کې علامه اقبال دغه نظریه پوره بدرګه کړې او په پښتو کې استاد ناګار د پان اسلامیز یو استاد شاعر دی، چې دا احساس یې په پنځونو کې زیات بارز دی. زموږ موخه د سیاسي تاریخونو تحقیق نه دی، بلکې هغه شاعرانه تاثرات دي، چې زموږ ادب ترې مالامال دی.

په شلمه پیړۍ کې زموږ د ډېرو ادیبانو تجربې د نړۍ سره وصل شوې او دوی هورې شاعري او لیکوالي وکړه. او د پښتو ادب لپاره یې زیاته غنامندي په برخه کړه. ((موږ د مهاجرت ادب په دې بریالی ګڼو، چې هغه تر ډېره بریده نړیوال شوی وي. په نړۍ کې د لویو کره کتونکو پام یې ځان ته را اړولی وي.))(۱) نړیوالو ته یې لاره هواره کړې وي او حتا په نړۍ کې په دې باندې فلمونه جوړ شوي وي او د نورو هېوادونو له خوا لوستل شوي وي. موږ دا ویلای شو، چې زموږ د مهاجرت ادبیات ډېر بریالي دي.

په شل کلنې دیموکراسۍ کې یو زیات شمېر ادیبان او شاعران جلا وطنه شول. او د هجرت سوزناک دردونه له ډېرو کلونو راهیسې زموږ په معاصر ادب کې خوندي دي او لا نور هم دا فریادونه سوزناک شول. ((اصل کې مهاجرت په خپله د معاصرې نړۍ سره تړلې پدیده ده.))(۲) که څه هم له هغې ورځې څخه چې افغانانو په هیواد تاړاکونه ان له چنګیز، مغل، انګلیس، روس او امریکاه له لوري شوي دي، نو یو زیات شمېر ادیبان مهاجر شوي او د هجرت یو ډول غم یې په خپلو اشعارو کې خوندي کړی دی. د خوښۍ او خپګان ګډو مضامینو یې په ادب کې لوی نوښت رامنځته کړی دی.

په دې دور کې ځينې لوی شاعران له هیواده مهاجر شوي دي. په دوی کې دوه ډلې دي، یو هغه ادبیان دي، چې غربي نړۍ ته کوچیدلي دي او بلې ډلې شرقي نړۍ او کاونډو هېوادونو ته یې هجرتونه کړي دي. هغوی چې په غربي نړۍ کې یې پنځونې کړې دي، لکه : استاد زیار، شپون، اند، اکبر کارګر، اکبر اکبر او ځینې نور مګر هغوی چې کاونډو او شرقي نړۍ ته یې هجرتونه کړي دي، لکه : ناګار ، کړاو، انس، صمیم، مفتون، ذاکري، خیرخوا، مطمین، سعید او ځینې نور...

موږ ددغو ټولو هجرتونو باندې نه غږېږو. او نه هم د دغو ټولو یادونه کولای شو. ددې لپاره باید علمي مرکزونه ځینې د تحقیق انستېټوټونه جوړ کړي او په دې باندې پوره تحقیق وکړي، ځکه چې مهاجرت ادب د ژبې، پنځوونې او داستان سره ډېر تړلې اړیکې لري. او له بل پلوه سیاسي دی.

اوس موږ یوازې دا ویلای شو، چې مهاجرت یوه انساني پدیده ده، او په یوه ټاکلي وخت پورې یې تړون او اړیکه نه شته، (چې په یوې مشخصې زمانې پورې دې وتړل شي) او یا دې د جغرافیې له لیده ورته وکتل شي، ځکه؛ نه یوازې دا چې د لومړنیو مدني ټولنو په جوړولو کې یې پرېکنده رول لوبولی دی، بلکې د تاریخ په اوږدو کې مهاجرتونه تل د بشري ټولنو په جوړښت او بدلون کې سترې اغېزې رامنځته کړې دي. دا نفوذ مختلف اړخونه لري، لکه: فکري، مذهبي، اقتصادي، سیاسي، کلتوري او حتا علمي.

په هنري لحاظ یې بارزه خوا!! لا له دې هم زیاته غنامنده ده، چې تخیل د مهاجرت یو له اغېزمنو برخو څخه دی. فارسي ادیبانو دا خبره ښکاره کړې ده، چې د تخیل او مهاجرت تر منځ یوه ژوره اړیکه موجوده ده او ډېر لوی ادبي او هنري اثار له مهاجرته اغېزمن شوي دي. په ادبیاتو او هنرونو کې د مهاجرت شتون دومره پراخ او اغېزمن شوی، چې خپل ډولونه یا فرعي ډولونه یې رامېنځته کړي دي. په هجرت کې د پنځول شوي ادب هنري زاویه د همدې شتون پایله ده او ددې سره په ادب کې ډېر غټ مضامین رامنځته شوي دي، لکه: مهاجرو ادبیاتو کې د بېلابېلو اقشارو د نفسیاتو دخالت، د نورو له کلتورونو اغیزې، د جلاوطنۍ درد، احساس  او داسې نور، چې دا ادب یې پېچلی کړي او متنوعې کړی دی.

دا د ایرانیانو ډېره درسته خبره ده، چې مهاجرتونه جغرافیوي پېښې نه دي، بلکې دا د انسان داخلي تجربې او خیالي پېښې دي. موږ د زیاترو مهاجرو شاعرانو او لیکوالو په پنځونو کې د هویت ګمنامي، شخصیت ورکوونه، نوستالیجیا، د سفر تکالیف، تنهایي، جلاوطني او د منظرو تخیلي تمایلات وینو او دا موضوعات په دغه ادب کې ډېر بارز او د هغوی لپاره خام مواد دي، چې د دوی اثارو په پنځونه کې ژور اغېز لري، مګر تر کومه چې زموږ اکاډمیکې ساحې دي په هغوی کې په سختۍ په دې اړه به مقاله پیدا شي. یانې دغو مرکزونو ددې ادب په اړه هیڅ فکر نه دی کړی. یانې زموږ د ادب زده کوونکي لا تر اوسه زموږ او زموږ د کوربه ټولنې

ترمنځ په مشترکو مضامینو خبر نه دي او نه هم زموږ زده کوونکي په دې عواملو پوهيږي، چې د کډې کلتوري فضا تاثرات په ادب کې څومره ژور دي؟

اسمهال زموږ زیاتره غرب میشتي ادیبان د سیکلریزم او فیمینیزم لپاره شاعري او لیکوالي کوي او دا په ادب کې ډېر ناکام عمل ځکه دی، چې په دې کې د کفري دسایسو یو ډېر خطرناک او لا علاجه تمایل پروت دی او دا شی په دې ټولنه کې هیڅ داخلي تجربه نه ګرځي او دا به د مفتدي وګړو په افکارو ډېر ناوړه اغیز وښندي.

**اخځلیکونه:**

۱- د ایران په مهاجرت ادب کې د نوستالیجیا بدلون: شیدا احمدزاده مقاله؛ ژباړه: یونس تنویر

۲- هند ته د ایراني انځورګرانو د مهاجرت اغیز میرسید علي او عبدالصمد: حسن بلخي مقاله؛ ژباړه: یونس تنویر